عمومي اسامبله

امنيت شورا

خپريدل: عمومي
۶ ډسمبر ۲۰۱۳
اصل: انګليسي

عمومي اسامبله
اته شپيتمه ناسته
د اجنډا ۳۷ ماده
**د افغانستان وضعيت**

د امنيت شورا
شپږ اتيايم کال

## د افغانستان وضعيت او پر نړيواله سوله او امنيت يې اغيزې

## د عمومي منشي راپور

### اول. پيژندنه

۱. دغه موجوده راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پريکړې ليک او د امنيت شورا د ۲۰۶۹ (۲۰۱۳) پريکړې ليک په تعقيب په کومو کې چې له ما غوښتل شوي، چې په هرو دريو مياشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کيږي.

۲. زما د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر د ۶ نيټې (A/68/609-S/2013/535) د راپور د خپريدو راهيسې، دغه راپور د پام وړ بشري، پراختيايي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو فعاليتونو په اړه تازه معلومات برابروي. راپور همداراز د افغانستان په تړاو د کليدي سياسي او امنيتي پرمختګونو او د سيمه ييزو او نړيوالو پيښو لنډيز برابروي.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

#### الف. سياسي

۳. د سياسي، امنيتي، او اقتصادي ليږدونو په جريان کې، په افغانستان کې وضعيت د بې باورۍ په واسطه ځانګړی پاته شوی، که څه هم په ځينو برخو کې پرمختګ او مخ پر زياتيدونکې وړاندوينه ښودل شوی. د راپور ورکونې د مودې په جريان کې، د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د تخنيکي چمتووالي په برخه کې زيات خوځښت موجود و، پداسې حال کې چې د کانديدانو وروستي ليست د سياسي سيالۍ د شکل او بڼې په اړه ډير وضاحت وړاندې کړ، کوم چې لا هم دوام لري. د مشورتي لويې جرګې له خوا د متحده ايالاتو سره د دوه اړخيز امنيتي تړون تاييد د رواني ملګرتيا او د پراخې نړيوالې ښکېلتيا د دوام په غځولو سره د ملي شورا لخوا د تصويب تمه لا زياته کړه.

۴. د کانديدانو د نوموني د مودې په جريان کې، د سپټمبر له ۱۶ نيټې څخه تر اکتوبر ۶ پورې، ۲۷ تنو ولسمشرۍ ته ځان نوموړی چې هر يو يې د ولسمشرۍ دوه مرستيالان لري؛ د ټولټال ۳۴ ولايتي شوراګانو د څوکيو لپاره ۳۰۵۷ تنه داوطلب شتون لري . ميرمنې د پخوانيو ۱ سلنه او د وروستيو پاتې کانديدانو ۳۲۴ هغه جوړوي. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د سيپټمبر په

۲۷ نیټه اعلان وکړ چې د ناکامو ښځینه نوماندانو بیعانې/پیسې به بیرته ورکړل شي او د هغوي د کمپاین توکو لپاره به ملاتړ برابر شي چې د میرمنو د راجسټر کولو د هڅونې لپاره په نظر کې نیول شوي وه. د اکتوبر په ۲۲، د ټاکنو د کمیسیون لخوا د تایید د پروسې په تعقیب، د ولسمشرۍ د ۱۰ کاندیدانو لومړنۍ لیست خپو ر کړ چې د اساسي قانون اړتیاوې یې پوره کړي وې. د یوازنۍ میرمنې په ګډون، ۱۶ نوماندان د سیالۍ لپاره مردود وشمیرل شول، او یو بل یې د رسمي پروسې له پیل کیدو څخه دمخه، احتمالا د نا تکمیل شویو اسنادو د نه سپارلو له امله له سیالۍ څخه وایستل شو. د درک وړ ده چې د بې کفایتي/رد صلاحیت په اړه پریکړې په عمده ډول د دوه ګوني تابعیت لرلو په اړه په قانوني مخنیوي او نوې قانوني اړتیا پورې اړه لري چې باید هر نوماند د لږ تر لږه ۲۰ ولایتونو څخه ۱۰۰۰۰۰ رایې ولري. د ولایتي شورا نوماندان ۲۷۰۴ ته را کم شو (چې له هغې څخه ۳۰۹ هغه یې ښځینه دي). د بې کفایتي/رد صلاحیت په اصلي دلیلونو کې د عمر او تعلیم اړتیاوې نه پوره کول شامل دي. د ټاکنو کمیسون له خوا د رای ورکوونکو د تایید په اړه د "زغم" د کچې د پلي کولو په شمول او د رای ورکونکو د نا تکمیل شویو معلوماتو په نظر کې نیولو او په انفرادي ډول د رد صلاحیت کاندیدانو د لرې کولو د لاملونو د اطلاع ورکولو په برخه کې د پاتې راتللو په اړه نوماندانو او مدني ټولنې د بې کفایتي/رد صلاحیت د درۍ ورځنې ځند د اعلان او په پروسه کې د رونتیا د نه شتون په اړه اعتراض وکړ. د اکتوبر په ۲۸، د ټاکنو کمیسیون اړوندو رد شویو کسانو ته لیکلي خبرتیاووې استولې.

۵. د سپټمبر په ۱۵، ولسمشر حامد کرزي د انتخاباتي شکایتونو د خپلواک کمیسون پنځه غړي (څلور نارینه او یوه ښځه) ونومول. نویو کمیشنرانو د سیاسي چارو کارپوه او د ولسمشرۍ پخوانی حقوقي سلاکار، عبدالستار سادات د رئیس په توګه وټاکه. کمیسیون، چې اوس په قانوني ډول یوه دایمي اداره ده، د نویو ودانیو، پالیسیو او کړنلارو د جوړولو او د پرسونل د استخدام په برخه کې کار کړی دی. د سپټمبر په ۲۳، ولسمشر کرزي امر وکړ چې حکومت دې کمیسیون ته د ۲۰ میلیون افغانیو (نږدې ۳۵۰۰۰۰ امریکایي ډالرو) ابتدایي تمویل، په کابل کې ودانۍ او همداراز موټرې او د خپلو غړو لپاره محافظت چمتو کړي. د اکتوبر په ۹، مرستندویانو د یاد کمیسیون لپاره د نړیوالې مرستې لپاره د تمویل جوړښتونه تصویب کړل. د شکایتونو کمیسون، چې د اکتوبر په ۲۲ د لومړني لیست په تړاو د اړوندو کاندیدانو د وړتیا په اړه د اعتراضونو او شکایتونو ترلاسه کول پیل کړل، پریکړه وکړه چې په دې اړکه قضاوت به په کابل کې ترسره کیږي او دا چې د یاد کمیسیون ولایتي شتون به هغه وخت را منځ ته شي چې د ټاکنیزې پروسې د نورو مرحلو په تړاو شکایتونه ترلاسه شي. په ټولیز ډول ۱۰۵۶ اعتراضونه او شکایتونه ترلاسه شول. د قضاوت په تعقیب، د نومبر په ۱۹، د شکایتونو کمیسیون خپلې موندنې د ټاکنو کمیسیون ته وړاندې کړې. په دا بله ورځ وروستی لیست چې پکې د ولسمشرۍ یو اضافي نومان او د ولایتي شوراګانو نهه تنه اضافي کاندیدان (۳۰۸ میرمنې) شاملې وې، خپور شو.

۶. د ولسمشرۍ ۱۱ نوماندان، چې په ترتیب سره به په رای پاڼو را څرګند شي، عبارت له: عبد الله عبد الله، داود سلطانزوی (په وروستي لیست کې ځای په ځای شوي)، عبدالرحیم وردګ، عبدالقیوم کرزی، محمد اشرف غني احمدزی، سردار محمد نادر نعیم، زلمی رسول، قطب الدین هلال، محمد شفیق ګل اغا شیرزی، عبدالرب رسول سیاف او هدایت امین ارسلا دي. د ولسمشرۍ درې نوماندان د مرستیالۍ د څوکیو لپاره ښځینه نوماندانې لري.

۷. د رایې ورکوونکو د شمیر د زیاتوالي لپاره، د سپټمبر په ۱۷ د ټاکنو کمیسیون پریکړه وکړه چې د لاسرسي په پراخولو سره د ګرځنده راجسټریشن ټیمونو په درلودلو سره د ولسوالۍ په کچه د رای ورکوونکو د نوم لیکنې تازه تمرین د ۴۵ ورځو لپاره یعني د نومبر تر ۱۰ نیټې پورې وغځوي. د دې مرحلې په پای کې، د ۳ میلیون څخه ډیر د رایې نوي کارتونه ویشل شوي، چې شاوخوا دریمه برخه یې ښځو ته ورکړل شوې. د ټاکنیز بهیر د ټولشمولوالي د ترویج په خاطر، په افغانستان کې ملګرو ملتونو وویل"سیاسي ګډون د هرچا حق دی: میرمنې د رایه ورکونکو او کاندیدانو په توګه "د ملګرو ملتونو د کلنۍ پرانیستې ورځې موضوع د ښځو، سولې او امنیت په تړاو د مسلو په اړه بحث کوي. د اکتوبر په ۲، د مدني ټولنې برخه اخیستونکو د نارینه وو د سلوک پراخوالی، ناامني، د رای ورکولو د مرکزونو موقعیت، د رای ورکونې او د امنیت د ښځینه کارکونکو ناکافي شمیر، او د میرمنو په منځ کې د هغوي د حقونو په اړه کم پوهاوی د میرمنو د بشپړ شمولیت اصلي ننګونې په ګوته کړې. د نومبر په ۳، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) چې د سیمه ییزو شریکبانو سره یو ځای کار کوي، په ټول هیواد کې متقابل عملونه او بحثونه پیل کړل ترڅو په ټولټاکنو پورې د اړوند مسلو د پوهاوي سره مرسته وکړي او د عامه بحثونو لپاره زمینه برابره کړي.

۸. د انتخاباتي کارکونکو، کاندیدانو، ملاتړ کونکو، رای ورکوونکو او انتخاباتي توکو امنیت د فعال ګډون او په پروسه کې د باور د پیاوړتیا لپاره اړین ګڼل کیږي. د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي وسله والې ډلې او طالبانو دواړو په ښکاره پر افغانانو غږ وکړ چې په ټاکنو کې برخه وا نه خلي، او د افغانستان په ختیځ کې په ځینو برخو کې د ګواښونکو شب نامو د خپرولو له لارې د ګواښونو راپورونه ورکړل شوي دي. د زابل، غزنی او هلمند ولایتونو څلور ولسوالۍ (په وروستي کې دوه) د امنیتی دلایلو له امله د ټاکنو کمیسیون د رای ورکوونکو د نوملیکنې په تازه تمرین کې ندي شامل شوي. د سپټمبر راهیسې، د سپټمبر په ۱۸ د کندز د ولایتي ټاکنو د افسر د وژلو په شمول، د رای ورکوونکو د نوم لیکنې پر دفترونو ۴ بریدونه او پر انتخاباتي پرسونلو ۱۰ بریدونه ترسره شوي. د دې پیښې وضعیت نامعلوم پاتې شوی، خو تر دې دمه د ټاکنو په تړاو د ستراتیژیک ګواښ کوم شواهد شتون نه لري. د اکتوبر په ۳، د انتخاباتي پروسې په جریان کې د امنیتی ارګانونو لپاره د ضوابطو یوه لایحه د ولسمشر په فرمان کې ترتیب شوه، چې د دندو په اجرا کې د بې طرفۍ او د بشري حقونو په اړه د درناوی ټینګار شوی. د اکتوبر په ۲۹، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو لخوا د نظم او قانون د اداره شوي وجهي صندوق د رهبري کمیټې، چې مشري یې د کورنیو چارو د وزیر له خوا کیږي د ۱۳۰۰۰ ښځینه پلټونکو د ګمارلو او روزلو وړاندیز تصویب کړ، ترڅو د ښځینه رایې ورکونکو لپاره ښه لاسرسی خوندي شي.

۹. د ټاکنو لپاره د سیالۍ پرمهال د رسمي موقفونو د تصرف په اړه قانوني ممانعت پدې معنی و چې پنځو وزیرانو او د ملي شورا اوو غړو د کاندیدانو د نوموني په موده کې له دندې استعفا ورکړه. پخوا، د سیپټمبر په ۲۵، د مخکنیو بدلونونو وروسته، ولسي جرګې (د ملي شورا ولسي جرګې) محمد عمر داودزی د کورنیو چارو وزیر او محمد اکرم خپلواک د سرحدونو او قبایلو چارو د وزیر په توګه تایید کړل. د ټاکنو د استعفاو په نظر کې نیولو سره، اوه نوي استازي د اکتوبر په ۱۹ ولسي جرګې ته معرفي شوي او بل د یوه د وژل شوي غړي د ځای د ډکولو کولو په خاطر معرفي شوی. د اکتوبر په ۲۷، ولسمشر کرزي ضرار احمد مقبل عثماني د بهرنیو چارو د وزارت د سرپرست، محمد اکبر بارکزی د کانونو او پټرولیم د وزارت د سرپرست، شاکر کارګر د سوداګرۍ او صنایعو د وزارت د سرپرست، عارف نورزی د اوبو او انرژۍ د وزارت د سرپرست او دین محمد مبارز د مخدره توکو د وزارت د سرپرست په حیث معرفي کړل.

۱۰. د سولې د رسمي پروسې د رامنځ ته کولو هڅې متوقف شوې. د سپټمبر په ۲۰، د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د افغانستان د حکومت په غوښتنه د ملا عبدالله غني برادر، چې یو وخت د طالبانو د مشر مرستیال و، خوشې کول اعلان کړل. د افغانستان د حکومت په آند ملابرادر د رغنده رول د لوبولو وړتیا لري او د ښه نیت د یوې هڅې په حیث یې د دغه اقدام هرکلی وکړ. د اکتوبر په نهمه، طالبانو یو بیان خپور کړ او ادعا یې کړې چې ملابرادر لا اوس هم په توقیف کې دی او له پاکستاني چارواکو یې وغوښتل چې د نوموړي د دریځ په اړه وضاحت وړاندي کړي. د افغانستان د سولې د عالي شورا رییس د نومبر د ۱۹ او ۲۱ تر منځ د یوه هیئت سره اسلام اباد ته سفر وکړ چیري چې نوموړي د لومړي وزیر نواز شریف او نورو پاکستاني چاروکو او د راپورونو سره سم د برادر سره ولیدل. د سولې د نړیوالې ورځې په شاوخوا کې د شورا په فعالیتونو کې د اسلام او سولې په اړه د عالمانو نړیوال کنفرانس شامل و کوم چې د اسلامي همکاریو د سازمان سره په ګډه د سپټمبر په ۲۴ په کابل کې ترسره شو. په دې غونډه کې د ۱۳ هیوادونو څخه ۲۰۰ دیني عالمانو برخه اخیستې وه، چې په پای کې یې یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې د تاوتریخوالي او افراطیت غندنه کوي. د سپټمبر په ۲۶، په کابل کې د مدني ټولنې د استازو سره د شورا د ناستې په پایله کې د راتلونکي همغږي او همکارۍ لپاره ګډ چوکاټ را منځ ته شو. د سپټمبر په ۲۲ د سولې په پروسه کې د میرمنو برخه اخیستنه چې د کنفرانس له موخو څخه یوه هغه و چې د سولې د عالي شورا لخوا تنظیم او د یوناما په ملاتړ په جلال آباد کې په لار اچول شوی وه. برخه اخیستونکو د ټولنې په بیلابیلو برخو کې د توپیرونو په کمولو کې د ښځو د ځانګړي نقش یادونه وکړه. د اکتوبر په ۵، د ښځو، سولې او امنیت په اړه یو نړیوال کنفرانس چې د بهرنیو چارو وزارت په کوربه توب ترسره شو، د افغانستان په سیاسي ژوند کې د میرمنو د رول او نقش د پیاوړي کولو په اړتیا ټینګار وکړ.

۱۱. د افغان سولې او بیا یوځای کیدنې د پروګرام ګډ سکرتریت راپور ورکړ چې د نومبر تر ۱۹ نیټې پورې ټولټال ۷۵۳۲ کسان د پروګرام سره یو ځای شوي او د مهمو وزارتونو ټولټال ۱۶۸ او د کوچنیو پورونو ټولټال ۱۷۰ پروژې بشپړې شوي یا پیل شوي. د اکتوبر په ۱، یوناما د ډایکونډي، کاپیسا، نورستان، کندز، تخار، ګردیز او جوزجان د ولایتونو د ټولنو تر منځ د سیمه ییزو خبرواترو یوه لړۍ پیل کړه چې موخه یې د قومونو تر منځ د تشنج د کچې کمول او باور د فضا را منځ ته کول وه.

یوناما همداراز د سولې په اړه د خلکو د بحثونو لپاره، چې په خپل ذات کې د مدني ټولنې یو نوښت دی او موخه یې د سولې د ملاتړ په برخه کې د ولایتي لار نقشو جوړول دي، خپل ملاتړ ته دوام ورکړ . د سپټمبر او نومبر تر منځ، په ټوله کې د ۲۰۰ پلان شویو هغو له جملې څخه – د تمرکز د ډلو ۴۴ بحثونه ترسره شوي، چې ټولټال ۱۰۹۳ افغانانو پکې برخه اخیستې، د کومو له جملې څخه چې ۴۸۶ ګډونوال یې ښځې وې. د ګډونوالو له خوا په وړاندیز شویو اقدامونو کې له دندې د مفسدو لرې کول، د وړتیا پر بنسټ د ګمارنو څخه ډاډ او د عامه نظارت لپاره میکانیزمونه شامل دي.

۱۲. د شمالي اتلانتیک تړون سازمان د غړو هیوادونو په شمول، د متحده ایالاتو او نورو هیوادونو لخوا د هر ډول راتلونکو پوځي ژمنو لپاره د پلانولو د مهالویشونو په پام کې نیولو سره، د دوه اړخیز امنیتي تړون په اړه د کابل او واشنګټن ترمنځ په چټکې سره خبرې اترې دوام لري. د اکتوبر په ۱۱ او ۱۲، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر، جان کیري او ولسمشر کرزي په کابل کې سره ولیدل، چې په یو شمیر مهمو مسلو یې موافقه وکړه. د ملي حاکمیت د یو شمیر مسلو په اړه د پراخو مشورو په اهمیت په ټینګار سره، ولسمشر کرزي مخکې تر دې چې موافقه ملي شورا ته وړاندې شي، د نومبر له ۲۱ څخه تر ۲۴ پورې مشورتي لویه جرګه جوړه کړه. د غونډې په جریان کې، د تړون متن د متحده ایالاتو د ولسمشر بارک اوباما د لیک سره یو ځای پر ګډونوالو وویشل شو. ولسمشر کرزي له تړون څخه د ملاتړ په موخه شاوخوا ۲۰۰۰ را غونډو شویو استازو ته خبرې وکړې، چې تر ۲۰۲۴ پورې او د هغه ور ها خوا مودې لپاره به په خپل ځای پاتې وي، څکه چې دا ثبات ته د لېږد لپاره یو فرصت برابروي. په ورته وخت کې، هغه ټینګار وکړ چې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو څخه دمخه د سولې د راوستو په شمول، د لاسلیک کولو څخه دمخه باید د تړون ګټې روښانه شي. د غونډې ګڼ شمیر برخه اخیستونکو د تړون څخه ملاتړ وکړ او په څو اونیو کې یې د تړون د نهایي کیدو غوښتنه وکړه، خو بیا هم ولسمشر خپل مخکیني شرطونه تکرار کړل. له دې دمخه، د اکتوبر په ۲۳، په بروکسل کې، د ناټو دفاع وزیرانو په ۲۰۱۴ کال کې د ایساف د ماموریت د پای ته رسیدو څخه وروسته د احتمالي روزنې او مشورتي ماموریت لپاره د قوماندې او کنټرول د ترتیباتو او ظرفیتونو لپاره د ستراتیژیک پلان کولو ارزونې تایید کړې. د ماموریت هر ډول پرمختګ به په افغانستان کې د ناتو د ځواکونو د دریځ په تړاو په یوه قانوني چوکاټ پورې اړه ولري.

**ب. امنیت**

۱۳. د دوبي د دودیزې جګړې موسم د دولت ضد عناصرو لخوا د یرغلیز فشار په واسطه ځانګړی شوی، چې مقابله یې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا شوی. ځایي امنیتي ارګانونه، په ځانګړې توګه افغان ملی پولیس او افغان سیمه ییز پولیس د دولت ضد عناصرو لومړنی هدف دی. د اګسټ له ۱۶ څخه د نومبر تر ۱۵ هغې پورې د یادو پولیسو د اډو، کاروانونو، امنیتي پوستو او پرسونلو پر وړاندې د دولت ضد عناصرو له خوا ټولټال ۷۴ سلنه امنیتي پیښې ترسره شوي. د اګست د ۱۶ او د نومبر د ۱۵ تر منځ ډیری امنیتي پیښې - یعني ۷۰ سلنه هغه د هیواد په سویلي، سویل ختیځو او ختیځو برخو کې ثبت شوې. د سویلي ولایت هلمند سنګین ولسوالۍ په خاص ډول د جګړې ډګر و. د حکومت ضد عناصرو په اړه په څرګند ډول ویل کیږي چې د نورستان، کنړ او ننګرهار ولایتونو په سرحدي سیمو کې د کنټرول غوښتونکي دي. دولت ضد عناصر د سړکونو او ترانسپورتي شبکو په نښه کولو ته دوام ورکوي او په کلیوالو سیمو کې د پام وړ نفوذ ادعا لري، چیرې چې حکومت ډیری وختونه لږ لاسرسی لري یا خدمتونه وړاندې کوی، په زیاتیدونکي ډول په لویدیځ، شمال او شمال ختیځ کې. وسله والې نښتې د اګست له ۱۶ څخه د نومبر تر ۱۵ مودې پورې د پیښو ۴۸ سلنه جوړوي. د ځانګړو اهدافو پر وړاندې، په خاص ډول د سپټمبر په ۲۸ د بدخشان په ولایت کې د لنډې مودې لپاره د ولسوالۍ د اداري مرکز د نیولو په شمول، د وسله والو ډلو د تمرکز اندازه هم لوړه شوې. دولت ضد عناصر د خلکو د پام وړ د ګڼې ګوڼې د مرکزونو په نیولو کې پاته راغلي.

۱۴. د افغان امنیتي ادارو د وړتیاوو ښه والی په پرله پسې توګه دوام لري. ځایي قوتونو ګڼ شمیر عملیات پلان او اجرا کړي، په داسې حال کې چې ایساف د چاودیدونکو توکو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې هوایي ملاتړ او مرسته چمتو کړې. د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د ملي اردو شاخوا ۱۸۵۳۰۰ پرسونل شتون درلود (د ۱۸۷۰۰۰ هدف په درلودلو سره) او د افغانستان د هوایي ځواک ۶۸۰۰ پرسونل (د ۲۰۱۶ تر پایه د ټولټال ۸۰۰۰ هدف په درلودلو سره). په سپټمبر کې، په دفاع وزارت کې د جنډر او بشري حقونو څانګه رامنځ ته شوه او د اردو لپاره د ښځینه استخدام یو پروګرام په لار واچول شو، چې د نومبر تر لومړۍ نیټې

پو رې یې ټولټال ۴۵۸ښځینه کارمندان درلودل. د نومبر تر ۱۸ نیټې پورې، د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق د ټولټال ۱۴۱۶۶۰ پولیس پرسونلو او د مرکزي محبس د ریاست د ټولټال ۴۹۰۱ ساتونکو لپاره ملاتړ برابر کړ. د پولیس مردمي تر پروګرام لاندې د افغان ټولنې د لاسرسي د هڅو د ملاتړ په برخه کې، د ملګرو ملتونو د دیموکراتیکې پولیسې پروژې په اوو ولایتونو کې د پولیسو د خوندیتوب او همداراز د ښځو په شمول د ارزګان، بغلان، هلمند، غور او بلخ د ولایتونو په ۱۵ ولسوالیو کې د پولیسو او ټولنې د مشرانو تر منځ د میاشتنیو مشورو په اړه لارښوونې برابرې کړې. د کورنیو چارو نوي وزیر د خدمت د ژمنې په اړه یو ځل بیا تکرار کړی چې تمایل یې په زیاتیدونکې توګه د قانون د انفاذ په دودیزو فعالیتونو دی او همداراز یې ژمنه وکړه چې ۱۰۰۰۰ ښځینه پولیس به په دندو ګماري او داسې میکانیزمونه به ځای په ځای کوي چې موخه یې د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د ناوړه ګټې اخیستنې او ځورونې په وړاندې د هغوي خوندیتوب دي. تر دې دمه د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو ټولټال ۱۹۹۹میرمنې په دندو ګمارلې.

۱۵. د هیواد د سویل ختیځ په اړه د لمړني تمرکز په درلودلو سره، د افغان سیمه ییزو پولیسو د امنیتی نوښت پراختیا په دوامداره توګه دوام لري. د نومبر تر ۱۹نیټې پورې، د ۲۹ ولایتونو په ۱۲۲ ولسوالیو کې د پرسونل شمیر شاوخوا ۲۴۵۰۰ تنه ده. یاد پولیس د حکومت ضد عناصرو لخوا په دوامداره توګه په نا متناسب ډول د لویو بریدونو سره مخ شوي. نیمروز، پنجشیر، سمنګان او نورستان هغه یوازینی ولایتونه دي په کومو کې چې یاد پروګرام لا هم نه ده دی پلی شوی. یوناما په یو شمیر قضیو کې، په ځانګړي ډول په شمال ختیځ او ختیځ کې، په کومو کې چې افغان سمیه ییز پولیس ښکیل دي، په معافیت سره د ناوړه چلند په اړه د ادعاوو مستند کولو ته ادامه ورکوي. په نورو ځایونو کې یاد قوتونه د ځایی خلکو د توقعاتو سره سم خپلې دندې پر مخ بیایي.

۱۶. لکه څنګه چې افغان امنیتي ځواکونو د جګړې په ډګر کې مخکښه رول په غاړه اخیستی، د تلفاتو کچه او د پولیسو د لیکو څخه د سرتیرو د تیښتې کچه لاهم لوړیږي. ډیری وختونه ارقام د اختلاف وړ وي. د اکتوبر په ۲۹، د کورنیو چارو د وزارت یوه لوړ پوړي چارواکي په رسنیو کې راپور ورکړ چې د اپریل له میاشتې راهیسې ۱۲۷۳ افغان ملي پولیس او ۷۷۹ سیمه ییز پولیس وژل شوي دي. د اکتوبر په ۲۱، په کنړ ولایت کې د افغان ځانګړو ځواکونو د قوماندان د فرار خبر ورکړل شوی دی. په ۲۰۱۲ کې د ورته مودې په جریان کې د ۱۴ هغو په پرتله، د اګست د ۱۶ او د نومبر د ۱۵ ترمنځ، په کندهار، پکتیا، پکتیکا، زابل او کابل ولایتونو کې د نړیوالو ځواکونو پر وړاندې پنځه داخلي بریدونه ترسره شوي. د دولت ضد عناصرو په لیکو کې هغوي ته هم زیانونه اوښتي. د امنیت شورا د بندیزونو په لیستونو کې یو شمیر موجود لوړ پوړي قوماندانان، د هغو له جملې څخه حکیم الله محسود چې د نومبر په لومړۍ نیټه د بې پیلوټه الوتکې په برید کې وژل شو؛ نصیرالدین حقاني، چې د نومبر په ۱۰ د نامعلومو بریدګرو لخوا ووژل شو او مولوي احمد جان چې د نومبر په ۲۱ ووژل شو، شامل دي.

۱۷. ملګرو ملتونو په کار، خوځښت او د ملکي فعالینو په خوندیتوب پورې د اړوندو امنیتي پیښو، په خاص ډول هغه پیښې چې د ماموریت د سپارل شویو فعالیتونو او پروګرامونو تحویل او سپارل متاثره کوي، په امنیت پورې د اړوندو پیښو نظارت کولو ته دوام ورکړی. د اګست له ۱۶ څخه د نومبر تر ۱۵ پورې، ټولټال ۵۲۴۸ پیښې ثبت شوې، چې دا د ۲۰۱۲ د ورته مودې په پرتله ۹. ۱۳ سلنه زیاتوالی دی. د کال په لومړیو لسو میاشتو کې، د ۲۰۱۲ په پرتله پیښې په نسبي توګه ۲. ۱۳ زیاتې وې، چې د ۲۰۱۱ په پرتله ۱۶ سلنه کمې وې. د کال په لومړیو لسو میاشتو کې، د ۲۰۱۲ په څیر ۸۹ بریدونه ترسره شوي-چې له هغې جملې څخه ۴۵ هغه یې په کندهار، هلمند، پکتیکا او کابل ولایتونو کې ترسره شوي دي. د لوړې کچې په ډله ییزو بریدونو کې د سپټمبر په ۱۳ نیټه په هرات کې د متحده ایالاتو پر قونسلګرۍ برید، چې په نتیجه کې یې لږ تر لږه اته تنه مړه شوه، او د لوی اختر د لمانځنې د مراسمو په ترڅ کې د اکتوبر په ۱۵ د ولایت په جومات کې چاودنه شامله ده د کومې په نتیجه کې چې د لوګر والي او درې نور ووژل شول. د اکتوبر په ۱۸، د کابل څخه د باندې په یوه ورځیرمه سیمه کې په یوه سوداګریزه ودانۍ چې د ملګرو ملتونو پرسونل پکې اوسیدل د جولای راهیسې په پلازمینه کې د نړیوالو پوځي ځوواکونو یو موټریز کاروان په یوه ځانمرګی برید کې په نښه شو. د برید کونکي سربیره دوه ملکي وګړي هم په برید کې ووژل شول. د نومبر په ۱۶، د مشورتي لویې جرګې لپاره چمتو شویو تاسیساتو ته نږدې چاودنه وشوه چې په نتیجه کې یې ۸ تنه ملکیان ووژل شول او نور ۲۳ ټپیان شول. د اکتوبر په ۱۴ د تر ټولو لوی احتمالي موټر بم د موندلو په شمول چې تر دې دمه په افغانستان کې موندل شوی، چې۲۷ ټنه

چاودیدونکي توکي او ۶۸ د ټانک ضد ماینونه یې لیرې‌دول، د چاودیدونکو توکو په اندازه کې پرله پسې زیاتوالی په ځانګړې توګه د یادونې وړ و.

۱۸. ملګرو ملتونو، د دې سازمان پلي کونکو ملګرو او نورو بشردوستانه ادارو د ګواښونو او د تاسساتو پر وړاندې د خصمانه نظارت په شمول، یو شمیر بیلابیلې مستقیمې او تصادفي پیښې تجربه کړې. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د امنیت د مدیریت د سیستم لخوا د لوړ خطر امنیتي شرایط په دوامداره توګه تر بیاکتنې لاندې پاتې شوې، کوم چې په اکتوبر کې د خوندیتوب او امنیت د اجابت او ارزونې د ماموریت لخوا "خورا ښه" ارزول شوې. په داسې حال کې چې ملګري ملتونه د خپلو ودانیو او کارمندانو د امنیت ساتلو لپاره په کوربه هیواد تکیه کوي، د نړیوالو ادارو د ساتنې په برخه کې د کورنیو چارو د وزارت د ریاست د راتلونکي په اړه یو څه اندیښنه شتون لري. د پولیسو د ریاست واحدونه په دریو برخو کې فعالیت کوي او د ملګرو ملتونو د کاروانونو لپاره بدرګه برابروي. پولیسو په ځانګړې ډول د مې په میاشت کې د مهاجرت د نړیوال سازمان په انګړ د برید پر مهال خپله وړتیا ثابته کړه. که څه هم چې وار له مخه د تمویل کونکو مرستې مصرف شوې، تمه وه چې د جون په میاشت کې به پروګرام وغځول شي.

۱۹. د اوو اضافي ولسوالیو په درلودلو سره چې د ماین د خطر څخه پاکې اعلان شوې، د ملګرو ملتونو په ملاتړ د ماین پاکې سکټور په ۱۰۰ ټولنو کې د ماینونو شاوخوا ۳۰۰ ډګرونو د ماینونو له خطر څخه پاک کړي. اټکل کیږي چې د ماینونو ټولټال۴۵۳۶ ډګرونه په ماینونو ککړ دي، چې د ۳۳ ولایتونو په کچه ټولټال ۱۶۲۸ ټولنې متاثره کوي. د ټولټال ۳۴۴ تلفاتو په درلودلو او د ټولټال ۹۹ مړینو په شمول کومې چې د جنوري د میاشتې د ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ هغې پورې ثبت شوې، په هغو پیښو کې په کومو کې چې ماینونه او د جګړې څخه پاته شونې چاودیدونکي توکي راځي او د هغو ساحو په شمول چې په دې وروستیو کې د نړیوالو پوځې ځواکونو له خوا تخلیه شوې، د ۲۰۱۲ په پرتله زیاتوالی راغلی. ملګرو ملتونو د ایساف سره په دې کار کړی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي هغه ځایونه چې تړل شوي یا لیرې‌دول شوي د ماینونو او ناچاودیدو توکو له خطر څخه په بشپړه توګه پاک شوي دي.

## ج. ج. سیمه ییزه همکاري

۲۰. پاکستان او افغانستان د اقتصادي همکارۍ او امنیت او همدارنګه د افغانانو په مشرۍ د سولې د پروسې په برخه کې رغنده ښکېلتیا ته دوام ورکوي. د سپټمبر په ۱۰ او ۱۱، د دفاع په اړه د پاکستان د سنا مجلس د دایمي کمیټې یوه پلاوي د امنیتي مسلو او همکاریو د بیاکتنې په موخه له افغان همکارانو سره وکتل. دا د پاکستان - افغانستان د پارلماني خبرو اترو د اووم پړاو په تعقیب چې د سپټمبر په ۲۶ په اسلام آباد کې جوړه شوه، ترسره شوه. د اکتوبر په ۸ او ۹، له اوږده ځنډ وروسته، د افغانستان - پاکستان د ترانزیت د همغږۍ د اداري څلورمه ناسته، چې د دوه اړخیزو موافقو په اړه د تحرک غوښتنه کوي، په کابل کې جوړه شوه. د اکتوبر په ۲۹، د افغانستان – پاکستان – انګلستان او شمالي ایرلنډ څلورمه درې اړخیزه ناسته، چې په سیمه ییز ثبات، اقتصادي همکاریو او د سولې په پروسې تمرکز کوي، په لندن کې جوړه.

۲۱. افغانستان په دوو اړخیزو او سیمه ییزو غونډو کې د نورو ګاونډیانو ښکېلتیا ته دوام ورکوي. د سپټمبر په ۱۲ او ۱۳، ولسمشر کرزي بشکیک ته د شانګهای د همکاریو د سازمان په دیارلسمه سرمشریزه کې د ګډون په موخه د لوړ پوړي پلاوي مشري وکړه، چیرې چې هغه د دې سازمان سره د اړیکو د لا پیاوړتیا ژمنه وکړه. په اسلام آباد کې د سپټمبر په ۱۶ او ۱۷، د مرکزي آسیا - سویلي آسیا د بریښنا د لیږد او سوداګرۍ د پروژې په اړه د بین الحکومتي شورا په څلورمه غونډه کې ګډونوالو درې پریکړه لیکونه تصویب کړل چې د قرارداد د جوړښتونو، تدارکاتو او مالي چارو کمیټې رامنځ ته کوي. د سپټمبر په ۲۷، ولسمشر کرزي چین ته رسمي سفر وکړ او له ولسمشر شي جینپینګ سره یې وکتل، چا چې په افغانستان او سیمه کې د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره د بیجینګ ژمنه تایید کړه. په دوشنبه کې، د اکتوبر په ۲۱، ولسمشر کرزي او د تاجکستان ولسمشر، امام علي رحمان، د ماین پاکۍ، د پولې څخه د اوښتو د پروتوکولونو او د بیمې د همکارۍ په اړه یو تړون لاسلیک کړ. د مرکزي آسیا - سویلي آسیا د بریښنا د لیږد او سوداګرۍ د پروژې پلي کولو او د وړاندیز شوې ریل پټلۍ په اړه چې تاجکستان، افغانستان او ترکمنستان سره نښلوي ځانګړې پاملرنه شوې. د اکتوبر په ۳۰، د روسیې، تاجکستان او افغانستان د سرحدي پولیسو مشرانو د شیرخان بندر د تګ او راتګ په پوله سره ولیدل. د تاجکستان او افغانستان د سرحدي ځواکونو قوماندانانو د افغانستان –

تاجکستان د پولې په اوږدو کې د جنايي او افراطي عناصرو د نفوذ په اړه اندیښنه څرګنده کړه او د روسيې له فدراسيون څخه يې وغوښتل چې تخنيکي او لوژيستيکي ملاتړ چمتو کړي. درې واړو هيوادونو د سرحدي همکاريو پروتوکول لاسليک کړ او د يوې ګډې کميټې په جوړولو يې موافقه وکړه. د نومبر په ۱۰، په خپله دولسمه کلنۍ درې اړخيزه ناسته کې، د روسيې د فدراسيون، هند او چين د بهرنيو چارو وزيرانو له افغانستان سره د لا زيات سيمه ييز ادغام او د نړيوال ملاتړ د دوام پر اړتيا ټينګار وکړ. نومبر په ۲۰، د افغانستان په اړه د لوړې کچې د درې اړخيزو خبرو اترو پر مهال، پاکستان، د روسيې فدراسيون او چين د هيواد د اقتصادي پرمختيا په برخه کې د لا زياتي نړيوالې ښکېلتيا پر اړتيا ټينګار وکړ.

۲۲. د يوه خوندي او با ثباته افغانستان لپاره د سيمه ييز امنيت په اړه د استانبول پروسه د سيمې لپاره د خپل پوتانسيل څرګندولو ته دوام ورکوي. د سپټمبر په ۲۳، په نيويارک کې د استانبول د پروسې د لوړ پوړو چارواکو په ناسته کې، افغانستان د استانبول د پروسې په اړه د آلماتي د وزيرانو د کنفرانس راهيسې هغه ترلاسه شوی پرمختګ وړاندې کړ چې د اعتماد جوړونې د شېرو اقداماتو په اړه په اپريل مياشت کې ترسره شو. په نوي ډهلي کې د لوړ پوړو چارواکو د ناستې لپاره چمتووالی، چې اوس د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د ۱۸ نېټې لپاره په نظر کې نيول شوی، د استانبول د پروسې لپاره د تمويل د بديلو روښونو او د هغه د باور جوړونې د شپږو اقدامونه په اړه يوه تخصصي څېړنه ده چې د اجرا په حال کې ده.

### دريم. بشري حقونه

۲۳. د سپټمبر د ۱۵ څخه تر ۱۷ پورې، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميشنرې آغلې ناوي پيلې د افغانستان څخه ليدنه وکړه. نوموړې د ولسمشر کرزي په شمول د لوړ رتبه دولتي او امنيتي چارواکو سره وليدل او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د رييسې، د مدني ټولنې د استازو، ديپلوماتيکې ټولنې او ايساف سره يې خبرې وکړې. نوموړې غوښتنه وکړه چې د بشري حقونو په برخه کې د تيرو ۱۲ کلونو لاسته راوړنې بايد د سياسي چټکوالي لپاره چې موخه يې د لېرد د بهيرونو غوښتنه ده قربانۍ نه شي او په ځانګړې توګه يې د ښځو او ماشومانو د حقونو د ساتنې او تقويه کولو پر اړتيا او د افغانستان د امنيتي بنسټونو د حساب ورکونې پر موضوع ټينګار وکړ . هغې د ملي بشري حقونو د بنسټونو د همغږۍ د نړيوالې کميټې لخوا د اعتبار راتلونکې پنځه کلنې بياکتنې ته په کتو سره، د کميسيون د پنځو نويو غړو د ګمارلو د غير مشورتي پروسې او د کميسيون په دريځ باندې د احتمالي اغيزې په اړه اندېښنه څرګنده کړه. د نومبر په ۱۸، کميسيون د يو رسمي وړانديز په درلودلو سره چې بيا به يې وروسته تعقيب کړي، بياکتنه ترسره کړه.

۲۴. شخړه په پرله پسې توګه ملکيانو ته تلفات اړوي. د اګسټ د ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې، يوناما ټولټال ۲۵۷۲ ملکي تلفات (۸۴۶ مړه او ۱۷۲۶ ټپيان) مستند کړي، چې په دې سره د ۲۰۱۳ کال د لومړيو ۱۰ مياشتو لپاره ټوليز ارقام ۷۳۹۴ هغو ته رسوي، يعني (۲۵۸۶ مړه او ۴۸ ۲۶ ټپيان)، چې دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۱۳ سلنه زياتوالی ښيي. د تلفاتو درې برخې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې. د دولت ضد عناصرو له خوا په ډله ييزو او ځانمرګو بريدونو کې د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو کارونه د ۴۹ سلنې تلفاتو لامل شوې او د ملکيانو پر وړاندې ستر ګواښ پيښوي. يوناما ۱۰ سلنه ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو او ۱۱ سلنه ځمکنيو عملياتو او بريدونو ته کوم چې کومې خاصې ډلې ته نه شي منسوبيدلای، منسوب کړي او پاته ۴ سلنه تلفات د جګړې د پاته شونو چاوديدونکو توکو او د پولې په اوږدو کې د ګوليو د توغولو له امله را منځ ته شوي. تر ټولو د اندېښنې وړ خبره د کال په لومړيو ۱۰ مياشتو کې د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنيو نښتو پر مهال د ملکي کسانو وژل (۴۵۶) يا ټپي کيدل (۱۴۵۴) دي: چې دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۳۶ سلنه ريکارډ شوی زياتوالی ښيي. د ځمکنيو نښتو په پايله د ملکي تلفاتو په برخه کې د ۵۲ سلنې زياتوالي په درلودلو سره شرقي سيمه د زياتې اندېښنې وړ ده.

۲۵. افغان ماشومان په پرله پسې توګه د وسله والې شخړې له امله ځوريږي. د اګست له ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې، يوناما د شخړې سره د تړلي تاوتريخوالي له امله د ماشومانو د وژل کيدو او معيوبيدو ټولټال ۴۴۴ پيښې - ۱۳۸ مړينې او ۳۰۶ ټپي کيدنې مستندې کړي. دا د مرګ په برخه کې سلنه کموالی او د ټپي کيدو په برخه کې ۲۳ سلنه زياتوالی څرګندوي. د ځمکنيو نښتو پر مهال د پولې په اوږدو کې د ډزو د پيښو سره يو ځای، د توپچي او راکټي بريدونه په نتيجه کې ۴۲ ماشومان وژل شوي او ۱۴۵ نور ټپيان شوي چې دا د ۲۰۱۲ کال د وورته مودې په پرتله ۶۷ سلنه زياتوالی ښيي. د نا چاودو توکو او ځمکنيو ماينونو

د چاودنې په نتیجه کې نور ۱۳ ماشومان وژل شوي او ۲۷ ټپیان شوي، چې دا د ۲۰۱۲ د ورته مودې په پرتله زیاتوالی ښیې. د ماشومانو زیاتره ملکي تلفات (۶۲ سلنه) وسله والو مخالفو ډلو ته منسوب شوي او ۱۴ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي او پاته نور یې کومې ډلې ته نه دي منسوب شوي. یوناما همداراز د دولت ضد عناصرو له خوا د اکتوبر په ۲۶ په میوند ولسوالۍ کې په یوه ښوونځي د ډزو د یوه برید په شمول چې په نتیجه کې یې یو ۸ کلن ماشوم ووژل شو، د تعلیمي مرکزونو پر وړاندې ۲۳ بریدونه ثبت کړي. د ماشومانو د استخدام اووه پېښې ثبت شوي – دوه د افغان سیمه ییزو پولیسو او پنځه د دولت ضد عناصرو له خوا . د سپټمبر په ۲۴، د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د دولت تخنیکي کاري ډلې د کم عمره ماشومانو د مخنیوي لپاره د عمل د پلان د چټک تطبیق په موخه غونډه وکړه. د پلان سره د مطابقت په موخه د لار نقشو په اړه ټولو اړوندو وزارتونو د معلوماتو د برابرولو غوښتنه وکړه. د اکتوبر د ۲۰ او ۲۲ تر منځ، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د وجهي صندوق اجرائیوي رییس د کابل څخه لیدنه ترسره کړه. د دولتي چارواکو، مدني ټولنې، خصوصي سکټور او د ملګرو ملتونو د همکارانو سره په لیدنو کې هغه د افغانستان د ښځو او ماشومانو لپاره د یاد سازمان په اوږدمهاله ژمنه ټینګار وکړ او د ډیرو لپاره زیانمنونکو یې د بشري، ټولنیزې او پراختیایي مرستو لپاره د زیات تمویل غوښتنه وکړه.

۲۶. یوناما د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه د قانون د پلي کولو نظارت او هغو هڅو ته دوام ورکوي چې موخه یې د داسې ضررلرونکو کړنو، د بیلګې په توګه د اجباري او تنکیو ماشومانو د ودونو څخه مخنیوی دی. د توکیو د دوه اړخیزه حسابورکونې تر چوکاټ لاندې، د افغانستان حکومت د قانون د پلي کولو په اړه د یوه راپور د چمتوکولو ژمنه کړې. په اکتوبر کې د حکومت چارواکو وویل چې راپور به د کال تر وروستیو پورې چمتو شي. لکه څنګه چې د ښځو د چارو د وزارت له خوا غوښتنه شوې، ملګري ملتونه د دې راپور د چمتو کولو په برخه کې تخنیکي مرسته برابروي. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د نړیوالې ورځې د لمانځلو په خاطر، او همداراز د جنډر د تاوتریخوالي د پای ته رسولو په موخه د نړیوال فعالیت د کلنې ۱۶ ورځني کمپاین د پیل په خاطر د نومبر په ۲۵، افغانستان د هیواد په کچه د یو لړ پیښو ملاتړ وکړ. د ځوانانو د ډلو، دیني عالمانو، حکومتي چارواکو او مدني ټولنې سره د تمرکز د ډلو بحثونو، خبرو اترو او ورکشاپونو د کمپاین په اوږدو کې دوام درلود څو پوهاوی لوړ کړي او د افغان ښځو او نجونو پر وړاندې تاوتریخوالی پای ته ورسوي او د راتلونکي عمل او کړنو لپاره مهمه اړتیا تقویه کړي.

۲۷. یوناما د هیواد په کچه د افغانستان د حکومت تر اداري لاندې د توقیف ځایونو څخه لیدنې ته دوام ورکوي ترڅو د شخړې سره د اړوند توقیفیانو سره چلند او د شکنجې او بدچلند د مخنیوي په اړه د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼې فرمان د تطبیق ارزونه وکړي. د اګست او اکتوبر ترمنځ، د هغو توقیف ځایونو په شمول چې د ملي امنیت د ریاست، د افغانستان د ملي پولیسو، د زندانونو د مرکزي ریاست او د افغانستان د ملي پوځ له خوا اداره کیدل، د یوناما کارمندانو په ۱۳ ولایتونو کې د ۲۷ توقیف ځایونو څخه لیدنه کړې. د ادعا شوې شکنجې او ناوړه چلند د نویو پیښو په اړه اندیښنې د کورنیو چارو د نوي وزیر او د ملي امنیت د رییس سره مطرح شوې، هغوی ژمنه وکړه چې په خپلو توقیف ځایونو کې به دې موضوع ته رسیدګي کوي. یوناما همدارنګه د افغانستان د دولت تر اداري لاندې په ټاکل شویو د توقیف ځایونو کې د فعالیتونو د بیا کتنې په موخه د ایساف سره کار کوي. ایساف د تصدیق خپله دوهمه بیاکتنه هم ترسره کړه ترڅو هغه ځایونه مشخص کړي چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له توقیف څخه افغان امنیتي ارګانونو ته د شکنجې له خطر پرته توقیفیان انتقال کیدلی شي.

۲۸. یوناما، د کلیدي شریکانو سره، د ټولټال ۱۷۳ زندانونو په تړاو د عملیاتي لارښودونو د بیا چمتو کولو په برخه کې مرسته کوي چې تمه کیږي د کال تر پایه به بشپړ شي. تر دې دمه، د دې لارښودونو له جملې څخه ۱۱۴ هغه یې اعلان شوي دي. یوناما د افغانستان لپاره د نظم او قانون د وجهي صندوق او اړونده ملګرو سره کار کولو ته دوام ورکړی ترڅو په افغانستان کې د زندان زیربنا ته وده ورکړي.

**څلورم. د کابل د پروسې تطبیق او د پراختیایي مرستو همغږي**

۲۹. د توکیو د وه اړخیزه حسابورکونې د چوکاټ د ژمنو د پوره کولو لپاره د خوځښت څخه د تداوم د یقیني کولو په خاطر، یوناما د ۲۰۱۴ کال په لومړیو کې د مالیې وزارت او تمویلوونکو ترمنځ د همغږۍ او نظارت د ګډ بورډ ناستې لپاره د چمتووالی په اړه بحثونو ته لار هواره کړه، چې پرمختګ به معلوموي او د پراختیایي کنفرانس څخه وړاندې چې تمه کیږي د ۲۰۱۴ په

وروستیو کې به د افغانستان د حکومت او انګلستان په کوربه توب ترسره شي، د افغانستان د حکومت او نړیوالو تمویل کوونکو ترمنځ د تمرکز مهمې ساحې مشخصوي. د بیاکتنې د غونډې لپاره د رهبرۍ کمیټه رامنځ ته شوې چې غړیتوب یې د مخکښو تمویلوونکو، مالیې وزارت، نړیوال بانک، آسیایي پرمختیایي بانک او یوناما استازي لري. د سپټمبر په ۱۹، د مدني ټولنې غړو د توکیو د دوه اړخیزه حساب ورکونې د چوکاټ (پلان کول ، د ملي لومړیتوب د پروګرام پلي کول، او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په اړه د قانون او بشري حقونو) د دریو تخنیکي کاري ډلو لپاره استازي وټاکل.

۳۰. د انتخاباتي پروسې په جریان کې د پرمختیایي اجنډا د جزئیاتو په اړه سوکه پرمختګ او د واک لیږد اجتناب ناپذیر خو اندیښنې وړ دی، په ځانګړې توګه د ننګونکو اقتصادي شرایطو په پام کې نیولو سره. د وزیرانو او لوړ پوړو چارواکو استعفاوو او ځای په ځای کولو د پلانولو او تطبیق په سرعت اغیزې درلودلې. د بېلګې په توګه، لکه څنګه چې د ملي لومړیتوب د پاته ۲۲ پروګرامونو د نهایي کولو، شفافیت او حسابورکونې په اړه کار دوام درلود، دواړو لوړ پوړو مسؤل وزیرانو او د نظارت او اداري فساد پر وړاندې د عالي دفتر رییس استعفاووې وکړې او د ټاکنو لپاره سیالۍ ته ودریدل.

۳۱. لکه څنګه چې د توکیو د دوه اړخیزې حسابورکونې تر چوکاټ لاندې ورته اړتیا لیدله کیده، د اکتوبر په ۷، د افغانستان حکومت د ولایتي بودیجې د پالیسۍ لومړۍ مسوده وویشله. پداسې حال کې چې د ولایتي او د ولسوالۍ د چارواکو وړتیاوې پیاوړې کوي ترڅو د خدمتونو مستقیمه رسیدنه ښه کړي، پالیسي د مرکزي حکومت د رول د انډول غوښتنه کوي. د اکتوبر په ۲۳، د ۱۳۹۱ کال مالي راپور (د ۲۰۱۱ د مارچ د ۲۱ څخه د ۲۰۱۲ د ډسمبر تر ۲۰ پورې په مالي کال کې دبدلون له امله مختصر شو) د ولسې جرګې په تخنیکي کمیسیونونو کې تر بحث وروسته ولسي جرګې ته وړاندې شو. د ولسي جرګې د مالي او بودیجې کمیسیون ویلي چې د دولت له ۵۵ بودیجې واحدونو څخه ۲۵ هغو یې له ۴۰ سلنې څخه کمه خپله تخصیص شوې بودیجه مصرف کړې. پداسې حال کې چې د بودیجې د پلي کولو د اندازې په اړه نیوکو شتون درلود، په ولسي جرګه کې د نصاب د نه پوره کیدو له امله رایه ترسره نه شوه. د نومبر په ۳، د مالیې وزیر د ۱۳۹۱مالي کال ملي بودیجه (د ۲۰۱۳ د ډسمبر د ۲۱ څخه د ۲۰۱۴ د ډسمبر تر ۲۰ پو رې) مشرانو جرګې ته معرفي کړه. دا د ۷.۹ ملیارد ډالرو لپاره وه، چې له هغې څخه ۴.۹ ملیارده ډالر د عادي بودیجې لپاره او ۳ ملیارده ډالر د پراختیایي بودیجې لپاره و. وزیر وویل چې د لګښت لوی مقدار د اردو او پولیسو لپاره اړین و. د مشرانو جرګې له نظریاتو وروسته به بودیجه ولسي جرګې ته وړاندې شي.

۳۲. د سیاسي او امنیتي لیږد په اړه ناڅرګندتیا په داسې یو هیواد کې په کوم کې چې د اقتصادي ودې د سوکه کیدو لامل شوې چې پکې اقتصادي فعالیت تر ډیره حده د زراعت په بې ثباته سکتور تکیه کوي. د نړیوال بانک د اکتوبر په تازه راپور کې راغلي چې د ودې کچه، په ۲۰۱۲ کې د ښو حاصلاتو وروسته ۱۴.۴ وه، اټکل کیږي چې په ۲۰۱۳ کې به ۳.۱ سلنې ته را ټیټه شي. د ۲۰۱۳ کال لومړۍ شپږ میاشتې د عایداتو د راغونډولو په برخه کې د ۱۱ سلنې کموالي شاهد پاته شوی، کمزورو ادارو او په پراخه کچه سستوالي ته د مرسته کونکو فاکتورونو په توګه کتل کیږي. د مالیې وزارت د ګمرکونو په ریاست کې د مشرتابه د بدلونونه په ګډون، د عایداتو د ثبات لپاره یو لړ اقدامات معرفي کړل، خو د پیسو د نړیوال صندوق د اهدافو د له لاسه ورکولو، او د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق هڅوونکو تادیاتو ته د لاسرسي خطر لاهم شتون لري.

۳۳. د ۲۰۱۵- ۲۰۲۰مودې لپاره د ملګرو ملتونو د پراختیایي مرستو د چوکاټ د رامنځ ته کولو په اړه پرمختګ دوام درلود. په پنځو لومړیتوب لرونکو ساحو هوکړه وشوه: متوازنه اقتصادي پرمختیا؛ اساسي ټولنیز خدمتونه؛ ټولنیز انډول او په بشري سرمایه کې پانګونه؛ عدالت او د قانون حاکمیت او حساب وړ حکومتولي. د قانون د حاکمیت د یوې ستنې/ برخې په توګه، د ملګرو ملتونو د اړوندو همکارانو ترمنځ په ګډو اهدافو هوکړه شوې او د همکارۍ په یوه پروګرام کار روان دی. د سکټور لپاره د ملاتړ د را منځ ته کولو په هدف او د لا زیاتې همغږۍ د یقیني کولو په موخه د عدالت او قانون د حاکمیت د څو ګونو همکارانو د وجهي صندوق د رامنځ ته کولو په اړه کار روان دی.

## پنځم. بشري مرسته

۳۴. د اګست د ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې ، ۷۰۹۷ کډوال په داوطلبانه توګه افغانستان ته ستانه شوي. د دغو کډوالو له جملې څخه، ۵۱۰۸ له پاکستان څخه، ۱۹۷۹ له ایران د اسلامي جمهوریت او پاتې نور یې د نورو ګاونډیو هیوادونو هیواد ته ساتنه شوي. په دې سره د ۲۰۱۳ کال په لومړیو ۱۰ میاشتو کې د ملګرو ملتونو لخوا د راستنیدونکو کډوالو شمیر ۳۶۱۹۴

ته ورسيد، چې د ۲۰۱۲ په پرتله ۵۱ سلنه کموالی ښيې. د سپټمبر په ۱۸ او ۱۹، د رهبري د کميټې دريمه څلور اړخيزه ناسته په اسلام آباد کې جوړه شوه، چې پکې د افغانستان د حکومت، د ايران د اسلامي جمهوريت او پاکستان او ملګرو ملتونو استازو برخه اخيستې وه. دواړه خواوو د سرچينو د يوځای کولو ګډې ستراتيژۍ پر جوړولو هوکړه وکړه.

۳۵. د اګست د ۱ او ۳۱ تر منځ، د داخلي بې ځايه شويو کسانو کاري ځواک، چې ګډه مشري يې د کډوالو او بيرته راستنيدونکو د چارو د وزارت او ملګرو ملتونو له خوا کيده، د شخړې له امله د ټوالټال ۱۸۵۰۰ کسانو بې ځايه کيدنه ريکارډ کړې. د ټولو بې ځايه شويو کسانو د ټولټال ۶۲۰۰۰۰ هغو له جملې څخه، دې د ۲۰۱۳ کال په لومړيو ۱۰ مياشتو کې د بې ځايه شوی کسانو شمير ۱۱۲۹۹۸ هغو ته ته ورساوه. پدې ربع کې، د بې ځايه کيدو تر ټولو لوړې کچې په وردګو، پکتيکا، غور، فارياب، بادغيس، فراه، کندز او په ځانګړي توګه د هلمند په ولايتونو کې وې.

۳۶. د ۲۰۱۳ کال له پيل راهيسې، د ګوزڼ د واکسين په نهو پړاونو کې، له ۵ کلونو څخه د کم عمر ټولټال۳. ۸ ميليونه ماشومان څو څو واره واکسين شوي. د اکتوبر تر ۲۵ پورې، په ۲۰۱۳ کال کې په افغانستان کې د ګوزڼ ۸ تاييد شوې پيښې راپور شوې، چې دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۸۰ سلنه کموالی ښيې. دا پيښې يوازې د کنړ او ننګرهار په ولايتونو پورې محدود دي، چيرې چې د نا امنۍ له امله د بې رحمه پوليو ويروس د جريان د مخنيوي هڅې په ځانګړي ډول ستونزمنې شوې. د ۲۰۱۲ کال له نومبر راهيسې د افغانستان په سويل کې د ګوزڼ د پيښو په اړه هيڅ ډول راپور نه دی ورکړل شوی ، او حالت داسې ارزول شوی چې ۹۰ سلنه خلک د پوليو څخه په پاکو سيمو کې ژوند کوي.

۳۷. په اکتوبر کې، په لويديز او مرکزي لوړو سيمو کې د هوا وچ وضعيت، خراب فصل، د خوراکي توکو کموالي او بې ځايه کيدو ته لار هواره کړه. د ملګرو ملتونو په ملاتړ، غير دولتي سازمانونو ټولټال ۸۶۰۰ کورنيو ته چې د ډيرو زيانمنوکو هغو په حيث پيژندل شوي، ټولټال ۱۸۰۰ ټنه خوراکي او غير خوراکي توکې ويشلي. د ژمي لپاره د نرمو شرايط وړاندوينه کيږي، خو د شديدي نيستي او د اساي خدمتونو د نشتوالي له امله چې د فصل اغيزه نوره هم تشديدوي، د ژمي د موسم لپاره پلانونه د ۲۲ ولايتونو په ۱۰۰ ولسواليو کې په زيان منونکو ټولنو کې پلي کيږي.

۳۸. د جنوري د ۱ څخه د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د ۲۷ مړينو، ۲۴ توقيفونو، ۴۵ ټپي کيدنو او ۷۲ تښتونو په درلودلو سره، د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر د بشردوستانه کارمندانو پر وړاندې ۲۳۵ پيښې ثبتې کړې. يوازې په اکتوبر کې، په نورستان کې د يوه منحرف شوي راکټ د توغولو په پايله کې د يوه مرستندويه کارکونکي د وژلو په شمول په ۱۵ ولايتونو کې د هدفي او غير مستقيم تاوتريخوالي ۲۴ پيښې او د يوه محلي روغتيايي کارکونکی وژل پداسې حال کې چې له تښتوونکو يې د تښتې کوښښ کاوه، راپور شوې. تښتونې او سرې تښتونې د هرات، پکتيا، ميدان وردګو او کونړ ولايتونو په عمومي سرګونو يوه معمولي کړنه ده. په جګړه ځپلو سيمو کې، د ملکي تلفاتو زياتوالي د بيړنيو خدمتونو په چمتو کونکو فشار راوړی. ټروما پاملرنې ته لاسرسی د ظرفيت د نه شتون، د تقاضا د ډير په نظر کې نيولو، او د شخړې د ښکيلو ډلو له خوا بشری اصولو ته د نه درناوي له امله ننګول کيږي.

۳۹. د اکتوبر تر ۳۱ پورې، د بشرپالنې عمومي عمل پلان د ۲۳۶ ميليون ډالرو تمويل په واسطه ۶۹ سلنه تمويل شوی. د بشري د همغږي کوونکي تر مشرتابه لاندې به د بشر پالنې عمومي صندوق د ۲۰۱۴ کال په پيل کې په کار پيل وکړي تر څو د اړتياوو لا زياته ستراتيژيکه او جغرافيايي پيژندنه او لومړيتوب تضمين کړي.

**شپږم. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۴۰. د افغانستان د اپيومو د ۲۰۱۳ کال سروې د نومبر په ۱۳ خپره شوه چې په افغانستان کې يې د کوکنارو د کښت ريکارډ لوړه کچه ثبت کړه. تر کښت لاندې ټوله سيمه ټولټال ۲۰۹۰۰۰ هيکتاره څمکه وه چې د ۲۰۱۲ په پرتله درې برابره زياته ده. د دې څخه ۵۵۰۰ ټنه اپيم ترلاسه شوي، چې په کال کې ۴۹ سلنه زياتوالی دی. د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او ملګرو ملتونو په ګډه دغه سروې ترسره کړې، د کوکنارو په برخه کې زياتوالی يې لوړو بيو او همداراز په ۲۰۱۴ کې د پيښو په اړه د ناڅرګندتيا اټکلونو ته منسوب کړی. د هيواد په سويل او لويديځ او همداراز په ډيری نا امنو سيمو کې د کوکنارو هميشنۍ ۸۹ سلنه کروندې کرل شوې. د هلمند په ولايت کې د کونارو کرکيله ۳۴ سلنه لوړه شوې، يوازي په هلمند کې په ۱۰۰۶۹۳ هيکتاره

ځمکه کوکنار کرل شوي. په شمال کې فارياب او بلخ د کوکنارو څخه د پاکو ولايتونو د حالت په له لاسره ورکولو سره، د "کوکنارو څخه د پاکو" ولايتونو شمير له ۱۷ څخه ۱۵ هغو ته راټيټ شو.

۴۱. د نومبر په ۹، د ملګرو ملتونو په تخنيکي مرسته، د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت د افغانستان د مخدره توکو د ۲۰۱۲ کال راپور خپور کړ. له هغه چې کلنی راپور پلان شوی دې راپور، د مخدره توکو د کنټرول د ملي ستراتيژۍ د برخو په اړه د پرمختګ يو ليد وړاندې کړ. دا راپور مشخصوي چې په ۲۰۱۲ کې د کوکنارو له منځه وړل د ۲۰۱۱ په پرتله ۱۵۴ سلنه ډير شوي، د کوکنارو ۹۶۷۲ هکتاره ځمکه اړول شوې. د استعمال په حواله، اټکل شوی چې په افغانستان کې د مخدره توکو شاوخوا ۱ ميليون بالغ کاروونکي شتون لري. پداسې حال کې چې د درملنې ظرفيت لوړ شوی - په ۲۰۱۲ کې د اټکل شوي ۱۰۲ مرکزونو په درلودلو سره ، چې دا په ۲۰۰۹ کې ۴۳ هغه وو- دا يوازې د هيواد د ترياکو او هيروئينو ۹. ۵ سلنه کاروونکو تر پوښښ لاندې نيسي. په ورته وخت کې، د جنايي عدالت د کاري ځواک پر وړاندې په ۱۳۸۸ کې (د ۲۰۰۹ له مارچ څخه د ۲۰۱۰ تر مارچ پورې) له ټولټال قضيو ۳۹۵ څخه په ۱۳۹۱ (د ۲۰۱۲ له مارچ څخه د۲۰۱۳ تر مارچ پورې) ۵۸۸ هغو ته لوړ شو. د راپور ورکولو په اوسنۍ موده کې، ترټولو مهمه قضيه د نيمروز ولايت د پوليسو د پخواني رييس محاکمه وه، څوک چې د سپټمبر په ۱۸ نيټه د مخدره توکو د اړوندو جرمونو په تړاو مجرم وپېژندل شو او په ۱۰ کلن بند محکوم شو. دوسيه اوس مهال تر استيناف لاندې ده.

۴۲. د افغانستان او ګاونډيو هيوادونو لپاره د ملګرو ملتونو سيمه ييز پروګرام د مخدره توکو د کنټرول له اداري او په ټوله سيمه کې د برخه اخيستونکو سره په دوامدار ډول کار کوي ترڅو د قضايي او د قانون د پلي کونکو ادارو، د مخدره توکو د وابستګي د مخنيوي او درملنې، او د پاليسۍ او مدافعې ترمنځ د همکارۍ ملاتړ وکړي. د اکتوبر په نهمه، د پروګرام تر پوښښ لاندې، د افغانستان - قرغزستان - تاجکستان د وزيرانو د کچې د نوښت دوهمه ناسته په بشکيک کې جوړه شوه. درې واړو هيوادونو د مخدره توکو د اړوند جرمونو په وړاندې د ګډې همکارۍ د پياوړي کولو يوه رسمي اعلاميه تصويب کړه. د نومبر په ۲۹ په دوشنبه کې د افغانستان، چين، د ايران د اسلامي جمهوريت، قرغزستان، پاکستان، د روسيې فدراسيون، تاجکستان، ترکيې، ترکمنستان، متحده ايالاتو او ازبکستان د مخدره توکو پر ضد د مبارزې د وزيرانو او رييسانو سره غونډه جوړه شوه.

**شپږم. د ماموريت ملاتړ**

۴۳. د اکتوبر په ۲۸، د ۲۰۱۴ لپاره د يوناما وړانديز شوې بوديجه (A/68/327/Add.4) د اداري او بوديجې پوښتنو مشورتي کميټې ته وړاندې شوه. د ټولټال ۱۰۱ ميليون ډالرو وړانديز شوې بوديجه د ۲۰۱۳ کال د بوديجې په پرتله د ۵. ۲سلنه يا ۵ ميليون ډالرو کمښت ښيې. دغه سپمونې به د دفترونو، کارمندانو او هوايي شتمنيو د کمولو له لارې ترلاسه شي. په دغو دوو، ۲۰۱۲-۲۰۱۳ کلنو کې د بوديجې د ۱۰۰ فيصده پلي کولو او د شفافو را کمولو د تمرين وړاندوينه شوې. په ۲۰۱۳ کال کې د پانګې د پانګوونې لپاره، نوي ادغام شوي ودانۍ، چې دفترونو او د استوګنې ځايونه لري، په کندهار، مزار شريف او باميانو کې بشپړ شوي.

۴۴. د يوناما ساحوي دفترونه د ماموريت لپاره يو ځانګړی ملي لاسرسی برابروي ترڅو سپارل شوې دندې او فعاليتونه ترسره کړي. لاسرسی تر دوامداره بياکتنې لاندې دی چې پدې وروستيو کې په پراخه کچه په کندهار کې زيات شوی، د ښار څخه د باندې د لاسرسي لپاره زمينه برابروي. د ځايي اړتياوو، مالي محدوديتونو او امنيتي شرايطو ته د ځواب ويلو په موخه، د ځايي شرايطو سره سم د تنظيم شويو دفترونو له لارې، به يوناما په زياتيدونکي ډول د "يوه اندازه ټول په بر کې نيسی/احتواکوي" چلند څخه واټن ونيسي. تر ټولو عاجل پلان شوی کار د باميانو د دفتر تغير شکل/ بيا جوړول دي. په کندز کې، يوناما د ملګرو ملتونو د همکارانو سره د ګډ ځای په انتخابونو غور کوي. په ملګرو ملتونو د نړيوال پوځي ځواکونو د کميدلو د احتمالي اغيزو په اړه ارزونې دوام لري، په ځانګړي توګه د هوايي مرکزونو/ډګرونو امنيت، طبي ملاتړ (د ډله ييز تلفاتو د ظرفيت په شمول) او په هيواد کې خوندي پټنځايونه، کوم چې به د ۲۰۰۵ کال څخه دمخه کچو ته بيرته وګرځول شي.

**اووم. کتنې**

۴۵. افغانستان د بې باورۍ په چاپېریال کې د سیاسي او امنیتي لېږد وروستی کال ته ننوزي. ځینې مثبت شاخصونه شتون لري. افغان امنیتي ځواکونو د ملي امنیت د تامین په برخه کې مخکښه رول په غاړه اخیستی او کلک اداري بنسټونه د جوړېدو په حال کې دي. د مشورتي لويې جرګې له خوا د امریکا د متحده ایالتونو سره د دوه اړخیز امنیتی تړون تایید د افغانانو پراخه پېژندنه جوتوي چې د نړیوال امنیت په تمدید سره د راتلونکو څو کلونو لپاره پرمختیايي ملاتړ اړین دی. د دې ډاډ ترلاسه کول چې دا ډول مرستې داسې ساتل کېږي او سپارل کېږي چې د افغانستان نهادونو تقویه او پیاوړي کړي او حاکمیت به حیاتي وي. ملګري ملتونه د دوامداره نړیوال ملاتړ د تسهیل او د افغانانو په مشرۍ د سیاسي بهیرونو سره د مرستې کولو په برخه کې مهم رول لري، کوم چې د راتلونکې سولې، ثبات او پرمختګ لپاره بنسټ جوړوي.

۴۶. د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې یو تاریخي سیاسي لېږد په نښه کوي او د افغانانو، ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې فوري تمرکز دی. د سختې سیاسي سیالۍ په جریان کې، د افغانستان د حقوقي او اساسي قانون د چوکاټ سره په سمون کې، پر وخت او ټول شموله ټاکنې خورا مهمې دي. دا د داخلي او نړیوال مشروعیت او دوامداره ملاتړ لپاره تر ټولو ریښتنی اساس دی. د ټاکنو لپاره تخنیکي چمتووالی په ښه توګه نیول شوی او قانوني چوکاټونه او د انتخاباتي مدیریت ادارې رامنځ ته شوي. د سیاسي او عامه منافعو ژورتیا د کاندیدانو د شمیر – د ولسمشرۍ لپاره د ۱۱ او د ولایتي شوراګانو لپاره د ۲۷۱۳ او د ۳ میلیونو څخه د ډېرو نویو رای کارتونو په خپرولو ورکولو سره معلومیږي. زه د ولسمشرۍ د ټیمونو د تنوع څخه هرکلی کوم چې فرقه یي او توکمیزې کرښې پرې کوي. د رایې ورکوونکو، کاندیدانو او انتخاباتي کارمندانو په توګه د ښځو برخه اخیستنه په عام ډګر کې حیاتي غړ پیاوړې کوي. زه د مېرمنو د برخې اخیستنې د هڅولو او د ښځینه وو رای ورکوونکو لپاره د خوندي لاسرسي د ډاډ ترلاسه کولو لپاره ترسره شوي ګامونه ستایم. د ټاکنو د پروسې د ټولو مرحلو پیاوړې کورنۍ او نړیوال نظارت به د باور په زیاتوالي کې هم مرسته وکړي. زه له غړو هیوادونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو څخه غواړم چې د نظارت د ملاتړ لپاره د افغانستان د حکومت غوښتنې په پام کې ونیسي.

۴۷. زما ځانګړي استازي په نړیواله ټولنه کې د څرګند پیغامونو د رسولو لپاره اسانتیا برابره کړې او د ټاکنو د مدیریت ادارو ته یې د یوه ټوله شموله، شفافو او ښه ترسره شوې بهیر د اهمیت د څرګندولو په برخه کې د افغانستان د قوانینو سره په سمون کې د ښه نیت هڅې ترسره کړې. هغه د ولسمشرۍ له نوماندانو سره لیدنو ته دوام ورکوي ترڅو په دې ټینګار وکړي چې یوه مشروع او اعتبار لرونکې پروسه د دوي په ګټه ده. زه له ټولو سیاسي فعالینو څخه غوښتنه کوم چې یوه سوله ییز او اخلاقي کمپاین ته ژمن و اوسي ترڅو یقیني کړي چې ټاکنې د ملي یووالي سره مرسته کوي. د یوې ټولشموله نوې اداري په اړه د کاندیدانو تر مینځ بحثونه – هر څوک چې خلک د خپل مشر په توګه ټاکي - کولی شي د "ګټونکی د سناریو پر وړاندې چې هر څه به د هغه وي " په ساتنه کې مرسته وکړي.

۴۸. د انتخاباتي پروسې په اړه امنیتي ننګونې رښتیني دي او باید په فعاله ډول ورته رسیدګي وشي. په ورته وخت کې، امنیتي ننګونې باید د ځینو رایې ورکوونکو د بې برخې کولو او د اساسي قانون په چوکاټ کې د ټاکنو د ترسره کیدو د مخنیوي لپاره د یوې پلمې په توګه ونه کارول شي. د قوي امنیتي ارزونې، د خطر د کمولو د مناسبو تدابیرو او د عامه پوهاوي د کمپاینونه په شمول د افغان ادارو تر منځ قوي امنیتي همکاري د زیات باور د را منځ ته کولو لپاره اړینه ده. زه له ټولو لوریو غوښتنه کوم چې د ټاکنو ملکي ماهیت او د افغانستان د خلکو حق ته چې خپله رایه وکاروي درناوی وکړي.

۴۹. په وروستیو میاشتو کې د سولې د بهیر په اړه پرمختګ خورا نهیلی کوونکی دی. په دوحه کې د طالبانو د صلاحیت لرونکو استازو لپاره د دفتر د پرانستلو په نوښت کې د پاتې راتلو وروسته، د افغانانو په مشرۍ د خبرو اترو د رامنځ ته کولو په اړه تمرکز د فزیکي ادرس له رامنځ ته کولو څخه د خبرو اترو د مناسبو ځوابیونکو، څرنګوالي او تسهیل کونکو پېژندلو ته اړول شوی دی. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په اړه سیاسي سیالیو او پاملرنې ته په توجه کولو سره، د لنډې مودې لپاره د شخړې هر اړخیز حل ممکن نه تر سترګو کیږي. د افغانستان د حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د راتلونکو مستقیمو خبرو د ملاتړ په هدف د درک د را منځ ته کولو په موخه لومړني ګامونه اړین دي او په هر صورت باید دوام ومومي. د جلا او مشخصو مسلو د حلولو له لارې د راتلونکې نوښتونو د خوځښت د را منځ ته کولو لپاره پوتانسیل شتون لري. د نړیوال بشردوستانه قانون په اړه د ښه پوهاوي د را منځ ته کولو له لارې او د نړیوال بشردوستانه قانون او د جګړې د نورمونو سره په مطابقت کې، په دې کې باید هغه هڅې شاملې شي چې موخه یې په ملکیانو د شخړې د اغیزو راکمول دي. مناسب تر هدف لاندې او په بشپړه توګه

پلي شوي بنديزونه هم د تاوتريخوالي سره د مبارزې او پخلاينې د ترويج په برخه کې د يوه هر اړخيز چلند د يوې برخې په توګه مهم رول لري.

.۵۰ د ټيکاو او سولې په اړه د افغانستان او پاکستان تر منځ په خبرو اترو کې زياتوالی، چې د اقتصادي همکارۍ له لارې مشخص شوی، هڅوونکی دی. د ګډو دوه اړخيزو ګټو په اړه مخ پر زياتيدونکې پيژندنه شتون لري، چې دا وده به په راتلونکي کې هم دوام ومومي. په پراخه کچه، د دوه اړخيزو، سيمه ايزو او څو اړخيزو غونډو له لارې د سيمه ييزې شکېلتيا د زياتوالی څخه هرکلی کيږي چې په ورته ډول د ټولې سيمې د سوکالي او امنيت لپاره حياتي ارزښت لري. ملګري ملتونه به د سولې او پخلاينې، ارتباطاتو او سوداګرۍ، د غير قانوني اقتصاد سره د مبارزې او د کډوالو لپاره د پايښت لرونکو حل لارو د موندلو په برخه کې د سيمه ييزې همکارۍ ملاتړ وکړي. دا هغه مسلې دي چې په اړه يې سازمان ځانګړې مهارت لري. د استانبول د پروسې څخه ملاتړ د هغو له جملې څخه يوه بيلګه ده. پداسې حال کې چې دا يوه سياسي پروسه ده، د "آسيا د زړه" ميکانيزم همداراز عملي ابعاد لري، چې د اعتماد جوړونې په شپږو اقداماتو کې مجسم شوي. په هرصورت، دا د نويو اړيکو او روښونو د رامنځ ته کولو لپاره لا زيات خوځښت/ حرکت ته اړتيا لري. ملګري ملتونه د دغه سيمه ييز نوښت لپاره د عملي پروګرام جوړولو د شمير د زياتوالي او د ښه نيت د هڅو د ملاتړ لپاره چمتو دی.

.۵۱ د کوکنارو د کښت او د ترياکو توليد د ريکارډ شويو کچو په اړه وروستی اعلان د ډيرې انديښنې وړ دی. دا د بې باوري په وخت کې د بې ثباتۍ يوه نښه او سرچينه ده. دا د افغانستان او پراخې سيمې د امنيت، سوکالۍ او پرمختګ لپاره هم يو د پام وړ خطر دی. د مخدره توکو پر وړاندې کامیابه او پايښت لرونکې هڅې د يوه ګډ او هراړخيز غبرګون غوښتنه کوي، چې همغږي يې د افغانستان د حکومت او تمويلوونکو شريکانو ترمنځ په لوړه سياسي کچه کيږي. دا يوازې د ريښتينې داخلي او نړيوالې سياسي ارادې د کارولو له لارې ممکن دی چې د غيرقانوني اقتصاد، جرم او فساد سره مبارزه وشي. ملګري ملتونه پدې برخه کې د همغږه هڅو ملاتړ ته ژمن دی. د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستو چوکاټ همدا اوس د پراختيا په حال کې دی چې د ناقانونه اقتصاد سره د مبارزې په برخه کې يو ځای شوې هڅې لومړيتوب بندي کوي.

.۵۲ په پراخه کچه د پوځ لخوا د ثبات په فعاليتونه کې کموالی د لا پايداره پراختيايي روش لپاره چې بنسټ يې د افغانستان په منل شويو ملي لومړيتوبونو ولاړ دی، ممکن يو فرصت وړاندې کړي. په داسې يوه هيواد کې چې لاهم په پراخه کچه په بهرنيو مرستو تکيه کوي، د ځان بسياينې په لور مسير يوه ننګونه ده. د ډيرو درونډو امنيتي لګښتونو په شمول، حکومتي لګښتونه په داسې حال کې د لوړيدو په حال کې دي چې عوايد کميږي. د سوداګرۍ د باور شاخصونه هم د کمېدو په حال کې دي. پدې نامعلومه زمينه کې، د تمويلوونکو د ملاتړ په برخه کې وړاندوينې ته اړتيا شته. د افغانستان د اوږد مهاله پايښت او تمويلوونکو د اعتماد لپاره، د تشکيلاتي اصلاحاتو په اړه د افغان چارواکو لخوا ريښتينې ژمنې ته هم مساوي اړتيا ليدله کيږي. پدې کې د عوايدو تنظيم، دندو رامنځ ته کول او يو قوي مقرراتي چاپيريال شامل دي. يوناما د توکيو د دوه اړخيزه حساب ورکونې په چوکاټ کې د حکومت او تمويلوونکو لخوا د متقابلې ژمنې د پيوستون د ترويج او تسهيل په برخه کې د ښه نيت هڅو ته دوام ورکوي. د سياسي ليږد په جريان کې د دوام د لا ښه يقيني کولو په هدف، ملګري ملتونه د افغانستان د اقتصادي او پرمختيايي اجنډا او د ولسمشرۍ د نوماندانو، نړيوالو مالي بنسټونو او ډونرانو تر منځ د چوکاټونه په اړه هم د خبرو سپړنه کوي.

.۵۳ هغه ژمنې چې په توکيو کې شوې، هغه د افغانستان د راتلونکي پرمختګ لپاره په وروستۍ لسيزه کې د بشري حقونو د لاسته راوړنو د ساتنې او پياوړتيا اهميت پيژني. د ښځو او ماشومانو د حقونو خوندي کول د ملګرو ملتونو يو لومړيتوب دی او د ملکي تلفاتو په برخه کې د يوناما کار يوه بې سارې نيرو او وړتيا ده. پدې کې د ماموريت تاييد او د ښځړې د ټولو خواوو له خوا د نړيوال بشردوستانه او بشري حقونو د قانون سره د موافقت ترويج شامل دی، او د دې هيواد په کچه د خپل شتون څخه ګټه پورته کوي. د ملګرو ملتونو له خوا د ملکي تلفاتو د خاصو پيښو تعقيب، او همداراز د ورته مسلو په اړه پراخه مدافعه، د بيلګې په توګه، د په لاس جوړ چاوديدونکو توکو اغيزې او د جګړې څخه د پاته شونو چاوديدونکو توکو پاکولو څرګنده اغيزه درلوده. لکه څنګه چې افغانستان خپل ليږد ته دوام ورکوي، د ملګرو ملتونو د بشري حقونو هڅې به د افغانستان د امنيتي بنسټونو په شمول، په زياتيدونکې توګه د ملي ظرفيت، پوهې او د بشري حقونو په اړه په حساب ورکونې باندې تمرکز وکړي. د ملکي پوليسو او جنډر د مسلو د ساحو په شمول، د دولت د مشروعيت او اغيزمنتوب رامنځ ته کول به د عدالت د تامين او د

قانون د حاکمیت د پلي کولو په برخه کې پرمختګ ته اړتیا ولري. دا د ملګرو ملتونو د پراختیایي فعالیتونو لپاره لومړیتوب لرونکې ساحې دي.

۵۴. ناامني، اقتصادي ننګوني او د حکومت محدود لاسرسی د بشردوستانه مرستو لپاره یوه مخ پر زیاتیدونکې اړتیا را منځ ته کوي - د ملګرو ملتونو د فعالیت یوه بله کلیدي ساحه. د هغه څه روښانه او اصولي تعریف کوم څه چې بشردوستانه مرستې تشکیلوي د ګډ بشردوستانه عمل پلان له لارې رامنځ ته کیږي ترڅو د بې پرې او خپلواکې رسیدنې څخه لکه څنګه چې په نړیوال بشردوستانه قانون کې ځای شوي، ډاډ حاصل شي. یو ګډ عمومي بشردوساته وجهي صندوق به د عمل د پلان ستراتیژیک، موضوعي او جغرافیوي لومړیتوب پیاوړی کړي. په داسې یوه هیواد کې چې د اوږدمهاله غربت، د لسیزو د اوږده تاوتریخوالي او طبیعي پیښو په وړاندې زیان منونکی دی، د پایښت لرونکو حل لارو او د لا زیات انعطاف د رامنځ ته کولو لپاره د بشري - پرمختیایي رابطې وده او پاملرنه اړینه ده.

۵۵. د افغانستان د خلکو د هوسایښې لپاره د ملګرو ملتونو اوږد مهاله ژمنتیا د یوه خوندي، ټولشموله او پایداره دولت له لارې په ښه توګه د درک وړ دی. کله چې د سیاسي او امنیتي لیږد د اغیزو په اړه روښانه وضاحت شتون ولري، پوهیږم چې د امنیت شورا به په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نقش او رول په اړه په لا ډیر تفصیل سره ځواب ووایي. د غړو هیوادونو دوامداره ملاتړ او سرچینې کولی شي د دې نازکو او ظریفو پروسو په جریان کې د ثبات، وړاندوینې او پایښت او تداوم اندازه چمتو کړي. د هیواد په کچه شتون لاهم مهم دی، پداسې حال کې چې یوناما او د ملګرو ملتونو اداري، وجهي صندوقونه او پروګرامونه د ګډو دفترونو او لګښتونو د شریکولو د تنظیماتو په لټه کې دي تر څو اغیزمنتوب او همغږي ته وده ورکړي. د ورکړل شویو دندو او فعالیتونو د پر مخ بیولو لپاره د ملګرو ملتونو د کارکونکو امنیت مهم دی او د کوربه هیواد او تمویلوونکو اغیزمنې مرستې ته اړتیا لري. د شورا د بحث د انحصار کولو څخه د مخه، په پام کې لرم په هغو ساحو زیات تمرکز وشي چیرې چې د ملګرو ملتونو له خوا د یوې همغږې سیاسي هڅې سره کولی شي مرسته وکړي، اضافي ارزښت به همداراز د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د انتقال د مودې وروسته حیاتي وي، یعنی د افغانانو تر مشرۍ لاندې د سیاسي بهیرونو ؛ د بشري حقونو د مسلو د څارنې او عدالت غوښتنې د ملاتړ په برخه کې د ښه نیت هڅې، په ځانګړې ډول د ښځو او ماشومانو حقونو ته پاملرنه؛ د متوازنې او دوامدارې ودې لپاره د همغږه روشونو تسهیل؛ او د ناقانونه اقتصاد سره مبارزه.

۵۶. زه د یوناما د ټولو داخلي او نړیوالو کارکوونکو او د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي یان کوبیش څخه تر ننګونو ډکو شرایطو لاندې د هغوي د دوامداره تعهد لپاره چې موخه یې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو سرته رسول دي، مننه کوم.